ورځپانه
# شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ٤٦مه گڼه پرله پسې (٤٢٥) یکشنبه د١٤٢٢هـ ق دربیع الثانی (٦)
د ١٣٨٠ هـ ش کال دسرطان (١٠) د ٢٠٠١ میلادی کال دجولای (١)


پـه تیرودریو میاشتو کی :

## ۴۵ تولیدی ، خدماتی پروژوته دفعالیت اجازه ورکړشویده

### دغه پروژې دهیـواد والود اړتیـا و دلیـری کـولو پـه برخـه کی سـتـر ارزښت لری

### پـه دغـو پـروژوکی زمـوږ سلگونوتنو هیوادوالوته دکار زمینه برابـر یـږی

کابل :

دروان کـال پـه تیـرو دریو میاشتوکی دهیـواد پـه سطحه پنځه څلویښت تولیدی خدماتی او تولنیزو پروژوته دخصوصی پانگی اچونی دهڅـونـې او پرمختیـا دمرکزی اداری لخوا د فعالیت اجازه ورکړ شویده ۔ پـه تولیـدی او خـدمـاتی برخـوکی ددغـو پـروژو فـعـالیت دهیواد دملی اقتصـاد پـه وده کی دخصوصی متشبثینو دعلاقه منـدی دهیـواد والـو د اړتیـا وو دلری کولو او دهیواد داقتصادی سیستم دبیا جوړونې څرگندوی دی ۔ ددغـو پروژو پـه جوړیدو سره زمـوږ سلگو نوتنو هیوادوالو ته دکـار او فـعـالیت زمـینه برابره شویده ۔ دتیرکـال پـه بهیـر کی

٤ مخ

الهی فرمان

هغه ورځ (دې ورياد کړی) چې خپلې ژبې ، لاسونه او پښې به یې په هغو عملونو شاهدی وایي چې کول به یې .

(٢٤- النور)

محترم تقدسی :

## اهل تشیبع دردفاع قاطع از امارت اسلامی قرار دارد

کابل :

متنفذین اهل تشیبع اعمال جنگ طلبانه مخالفین را تقبیح نمودند ۔ آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد . محترم ملا عبدالمنان نیازی والی کابل طی ملاقات با متنفذین ونماینده گان اهل تشیبع پالیسی امارت اسلامی راکه برقوانین

ص ٤

## ریاست مطالعه و نقشه برداری زمین در راه باز سازی کشور

کابل - شریعت :

تجربه های زنده گی این حقیقت را آشکار میسازد ، آن جامعه که روند زنده گی خویش را مطابق خواست ها وقوانین عینی وضع شده عیار میسازد از همه مشکلات و پرابلم های که در مقابل آن قرار میگیرد موفقانه به در آمده میتواند چه

ص ٤

## دغور ولایت په مرکز او ولسوالیوکی

# دامن امنیت تامین دی

### مجاهدین هره شیبه داخلالگرانو ددسیسو شنډولو ته چمتودی

### بی بی سی او مشهد راډیو گانو داسلامی امارت پرخلاف مخالف دریځ غوره کړیدی

غور:

دغـور ولایت جهـادی قوماندانانو پرون دیوی غونډی په ترځ کی داخلالگرانو دهراړ عملونو دشنډولو په لاره کی ځپل بشپړ تیاری څرگند کړ ۔ دچغـچـران له ښارنه دباختر اطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ : دغـور ولایت دمـرکـز او داړونډو ولسوالیو دجهادی قوماندانانو په غونډه کی چې ددغه ولایت دوالی

٤ مخ

دافغانستان بانک مرستیال سید محمود الله آخند زاده :

## دبانک په وړاندی دټولو بانکنوټو نو ارزښت محفوظ دی

کابل:

دافغانستان بانک دعمومی ریاست دخزانی له لاری د پیسو وېش دپخوا په څېر دوام لری او دبانک په وړاندی دټولو بانکنوټونو ارزښت محفوظ دی او بازار مکلفیت لری له هغه سره سم عمل وکړی دغه ټکی دافغانستان بانک مرستیال

٤ مخ

## روپیه پاکستانی ۱۵ فیصد ارزش خود را دربرابر پول افغانی از دست داد

### آیا امکان این میرود که ارزش پول افغانی درمقابل اسعارخارجی بیشتر ازاین بالا بگیرد ؟

کابل -شریعت :

خبر نگار ما درزمینه چنین گزارش میدهد : درطی دراز مدت عوامل متعددی دست به دست هم داده سبب شده اند تا ارزش بانکنوت های افغـانی را دربرابر اسعار خارجی نه تنها اینکه صدمه قابل

ص ٤

بندیزونه ددی سبب شوید ی چی :

## په پکتیکا کی دکولرا دناروغی له امله ۱۱تنه په حق ورسیږی

### زیاتره قربانیان ماشومان دی

پکتیکا :

دپکتیکا ولایت په مربوطاتوکی دکولرا ناروغی دخپریدو له امله ددغه ولایت ۱۱ تنه اوسیدونکی په حق رسیدلی دی

٤ مخ

## امریکایی اتباع تاجکستان ته له ورتلو منع شول

واشنگټن:

دامریکا متحده ایالاتو خپلو اتباعو ته خبر داری ورکړی دی چی تاجکستان ته له سفر کولو نه په کلکه ډډه وکړی۔ خبـر دهغـو امریکا یانو لپاره چی همدااوس په تاجکستان کی اوسیږی زیاتوی چی باید دخپل ځان او مال دامنیت په هکله فکر وکړی او

ص٤

## یك قبر دسته جمعی مسلمانان در صربیا کشف شد

### ٣٦ مسلمان البانوی نژاد در این حفٌره دفن است که ازجمله آن ٩ تن آن کودك اند

بلگراد :

سومین قبر دسته جمعی مسلمانان البانوی نژاد در صربیا کشف گردید که در این قبر دسته جمعی ٣٦ تن مسلمانان به شمول ٩ تن کودك دفن گردیده اند . طبق گزارش خبر رسانی های محلی این قبر دسته جمعی در

ص٤

په نیول شویو ځمکو کی دغاصب رژیم په وړاندی

## دسعودی عربستان خبر داری

ریاض:

دسعودی عربستان دبهرنیو چارو وزیر په نیول شویو ځمکو د اسرائیلو د صهیونیستی رژیم دځپونکو عملونو په اړوند خبر داری

ص٤

نړیوالی محکمی ته دمیلوسوویچ سپارلو په خاطر

## دیوگوسلاویا صدراعظم استعفی

بلگراد :

په لاهه کی دجنگی جنایتو نو محکمی ته دیو گوسلاویا دپخوانی جمهوررئیس سلو بو دان میلو سوویچ دسپارلو موضوع له دغه هیواد سره

٤ مخ

امریکا د زیر خواکی په لیونتوب کی

## پرچین او شمالی کوریا بندیزونه ولگول

### دغه بندیزونه له ایران سره د مرستی په مقصد لگول شوی دی

واشنگټن:

ایران ته د خطرناکـو وسلو په ورکولو سره امریکا د چین او شمالی کوریا پر کمپنیو بندیزونه لگولی ۔ د امریکا د خارجه وزارت ویاند مـوسـات پټ مـین ویلی دی چې د چین یوی کمپنی ایران ته فنی مرسته ورکړی او د جنوبی کوریا یوی کمپنی له ایران سره د توغندیو د برابرولو مرسته کړی ده چې دا ټول د نړیوالی معاهدی خلاف ورزی ده نوځکه د دواړو هیوادونو په کمپنیو بندیزونه لگول شوی دی ۔

## مردم روسیه درکام مواد مخدر

### حکومت ازمردم خواسته درمبارزه علیه مواد مخدر تلاش عمومی نمایند

بی بی سی :

در روسیه اعلام شد که دراین کشور درحال حاضر بیش از چهار صد هزار نفر به

ص٤

## څه وکړو

٣مخ

## دموږ گانو ټاپو !

٢ مخ

## اخطار حکومت روسیه به دیپلوماتها ی امریکایی

### ٤٦ دیپلومات تا ٢٤ ساعت خاك روسیه را ترك كند

**مسکو** :مسکو برای خروج اتباع امریکایی از روسیه ضرب الاجل تعین کرده است بگزارش اژانسهای خبری از مسکو مقامات روسیه دیروز اعلام کردند چهل وشش دیپلو مات امریکایی باید تاساعت بیست وچهار دیروزبه وقت محلی خاك روسیه را ترك کنند .گفته میشود این تصمیم درپاسخ به اخراج دیپلو ماتهای روسیه از واشنگتن در زمستان گذشته اتخاذ گردیده است تاکنون مقامات امریکایی درمسکو از اظهار نظر دراین باره خود داری کرده اند .

جنرال پرویز مشرف :

## بخاطر حل مسئله کشمیر در موقف قبلی پاکستان محکم و استوار خواهم بود

بخاطر حل مسئله کشمیر در موقف قبلی پاکستان محکم و استوار خواهم بود . این مطلب را جنرال پرویز مشرف طی ملاقاتی که با علمای کشمیری انجام داد گفته است بخاطر حل مسئله کشمیر به هند سفر مینمائیم مسئله کشمیر زمانی حل

ص٤

## په جاپان کی دامریکایی عسکرو دغیر انسانی عملونو په وړاندی اندیښنه

کمپ دیوید:

دجاپان هیواد په دغه هیواد کی دامریکائی عسکرو دغیر انسانی عملونو په وړاندی دامریکا متحده ایالاتو ته خپله اندیښنه څرگنده کړیده ۔ دغه اندیښنه دهغو خبرو په بهیر کی څرگنده شوېده چې

٤ مخ

## لبنان از طرف صهیونستها هدف حملات وحشیانه قرار گرفت

بیروت :

رژیم صهیونستی برخلاف تعهدات قبلی به سازمان ملل متحد مناطق مسکونی جنوب لبنان را از هوا وزمین هدف حملات وحشیانه خود قرار دادند۔

ص٤

## سرمقاله

دلوی او ښېونکی خدای «ج» په نامه

## آیا حالات رښتیا هم د مخالفی جبهې په گټه دي ؟

د مخالفی ډلگی یو مشر احمد شاه مسعود وړمه ورځ د فرانسی خبری آژانس ته څرگنده کړی چې دهیواد په بیلابیلو جبهو کې د اسلامی امارت پرخلاف جگړو او بغاوتونو روان حالات د مخالفی جبهې په گټه څرخولی او د امارت قواوې یې له پریشانی سره مخامخ کړی دی ۔ موږ په دې کې څه نه شو ویلای چې له پوځی پلوه به دا کار څه ډول نتایج ولری خو یوشی چې ټول افغان ولس ته اهمیت لری ، هغه د سولې ، ثبات او استقرار مسأله ده ۔ ځکه دا یو مسلم حقیقت دی چې افغانان نور له جگړو ستړی شوی او بوازینی

٢ مخ

## نوره بس ده استاذویل

## وینی یی کړو

## لطف حق لویه خدایه

٣ مخ

# شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
تیلیفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات : ۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه


## سرمقالې پاتې برخه

هیله یې په هیواد کې د سولې او امنیت ټینګښت او د پخوانیو جګړو د ورانو ویجاړو سمول او ودانول دي . مګر له بده مرغه د روسیې ، هند او ایران په توپونو او ټانکونو مست وسلوال جګړه ماران هیڅکله هم د دې مجاهد او میړني ولس د ربښتیني اړتیا پروا دار نه دي ، هغوی ته بې توپیره ده چې په هیواد کې جګړې او وچکالې ځپلي خلک په څه حال کې دي ؟ آیا هغوی بوې مړې دودې ته اړه لري او که د پردیو ګټو لپاره جنګ جګړو ته ؟ نو که د مظلومو هیوادوالو د بې وسۍ او بې چارګۍ نه په استفادې امنیت خرابول د مخالفینو په ګټه او داکار بوه ښه لاس ته راوړنه بولي ، دا خو له تیرو نهو کلو راهیسې دوام لري چې ربښتیا هم د مغرضو هیوادو هیلې یې تر ډیره بریده سرته رسولي خو په خپله جګړه ماران ډیر زیات ګوښه او د هیواد په یوه کوچنۍ ګوټ کې را ایسار شوي دي . دوی باید په دې خطا اټکل ونه غولیږي چې ښایي ملت به د هغوی د واکمنۍ فجایع له یاده ویستلي او بیرته به یې په ارمان شوي وي په هر صورت په کار خو داؤ چې نور یې له جګړو لاس اخیستی او د خپل هیواد او خلکو د ودانۍ او سوکالۍ لپاره یې څه مثبت پروګرام او پلان وړاندې کړی وای مګر سره له دې چې د هیواد په سلو کې پنځه برخې په لاس کې لري ، بیاهم په مکرر ډول د جګړو د نوي پلان او بلې ستراتیژۍ خبرې کوي . نو په دې اساس ویلای شو چې مخالفه جبهه د دې کړیدلي ولس لپاره هیڅ داسې کوم پلان او پروګرام نه لري چې د رد یې درمل او کرمې یې سمې کړي بلکې همدغه د امنیت خرابول ، سوله اېښ ژوند ګډوډول او د جګړو بیا بیا تکرارول خپله ستره ګټه او مهمه لاس ته را وړنه بولي . د افغانستان اسلامي امارت چې د خپل مجاهد ملت د غوښ ملاتړ نه برخمن او د دې کړیدلي ولس خدمت او سوکالې خپل مکلفیت او لوی ارمان بولي ، د مخالفینو داډول منطق او قضاوت هم دوی ته پرېږدي او د دغو پردي پاله ډلو ټپلو له شیطانت او اخلال سره سره یې د هیواد سوکالۍ ، ودانۍ او پرمختیا په لور ګړندیو هلو ځلو ته را بولي چې داکار ربښتیا هم لویه ګټه او ښه لاس ته را وړنه ده .

# د مورږ کانو ټاپو !!!

**ناصر شاه سرحدي**

هسې خو په نړۍ کې عجیبې او غریبې پیښې رامنځ ته کیږي د دوهم نړیوال جنګ د شروع (۱۹۳۹) میلادي کال نه د مخه د نازي آلمان دری تنو جیولوژستانو د « برمودا » یو ټاپو ته د دې لپاره تګل وکړچې د متفقینو پرضد له حیواناتو د جاسوسې په توګه کار واخلي ، د وی د دې هدف لپاره د برمودا ، ټاپو ته لاړل ، خو د څوورځو تیریدلو نه وروسته داسې معلومه شوه چې نوموړي جیولوژستان ورک او تري تم شویدي د غې . پیښې د نړۍ په مطبوعاتو او نړیوالو سرچینو کې لویه غوغا رامنځ ته کړه ترهغې چې د متحده ایالاتو ، د فلوریډا د پوهنتون (٤) تنو پوهانو د « جکسن » په مشرۍ له تویکو ، دوربینو نو او نورو ضروري وسایلو سره د تګ بند وبست وکړ ترڅو د دې پیښې علت معلوم کړي کله چې جکسن او نور ملګري یې د برمودا ټاپو ته ورسیدل ، نو که ګوري چې ټاپو ډیر و تیږو ، غرونو او غونډیو سر بیره په ګیو ځنګلو نوښت و . د جکسن په وینا کله چې موږ له یوې

وبالې تیرشوو ډیر خطرناک او ویرونکي آوازونه مو ، واوریدل موږ خپل دوربینونه راواخستل د خپلو لیدنو او مشاهداتو نه وروسته راته څرګنده شوه چې یو پوزلرونکي لوی مورک چې نري لکۍ او تقریباً (٤۰) کیلوګرامه وزن درلود دیو پسه په اندازه و دلته موږ د ډیرو وران ویجاړ دیوالونه هم ولیدل چې ګمان کیده د پخوانیو ودانیو پقایاوي په وی دا پوزلرونکي مورک دیو مارسره په جنګ و ، جکسن وائي زما ملګرو په هغو بانديډزې پیل کړې مار او مورګ مو د منځه یوړل خو زموږ د ډزو په آواز ګورو چې دومره لوی موږکان د سیلاب د څپو په شان زموږ په لور رامنډې وهي د یوې دقیقې په اوږدو کې ئې موږ کلابند او محاصره کړو ، زما ملګرو سختې ډزې په دې پوزلرونکولویو موږکانو پیل کړې مرمۍ مو په خلاصیده ې دې .

ملګري مې په دې زړه بوګنوو نکې پیښې کې قربان شول خو خدای ماته نجات راکړ ما دا کلابندي ماته کړه خو د دومره موږکانو په وړاندې په چا مقاومت کړی وای چې شمیر یې ناممکن وی ما د بحر په لور منډې پیل کړې ځان مې سمندر ته ورګوزار کړ او په لامبو ، لامبو مې ځان ساحل ته ورساو هلته په یوه بیړۍ کې بیرته خپل هیواد ته ستون شوم ، د خپلو نړیوالوسازمانو نو چې (ژوبڼ) سره ئې سرو کار درلو یو څه ملاتړ ترلاسه کړ داوار ، راسره نور وکسانو هم د ټانکونو ضروري وسایلو او یو لندکروزر موټر سره یو ځای د برمودا د ټاپو په لور حرکت وکړ کله چې هلته ورسید و نو ملګرو ته مې وویل چې د موټر شیشې کلکې وتړي او مخ په وړاندې د هغو ودانیو بقایاوته ځانونه ورسوي چې ما د خپلو قرباني شوو ملګرو سره په لوبږي وار لیدلي و

موږکان بیا هماغسې د سمندر د څپو په شان د موږ په موټر راحمله شول په شیشو او ، اوسپنو ئې منګلې ختبې کړې ډیر مو په موټر له منځه یو وړل چاره نه وه ملګروته مې امر وکړچې د سمندر په لور په وروستي ګیر کې حرکت وکړي داسې وشول موږ بیړۍ ته د « لندکروزر » سره وروختو موږکان بیرته ستانه شول ، دا وارمې خپلو ملګروته وویل چې ډیر احتیاط او پاملرنه په کار ده ځکه خدای مکړه چې زما د لومړنیو وژل شوو ملګرو په برخلیک اخته نشو د ټانکونه مو په بیړۍ وردننه کړل او د ټاپو په لور مو حرکت وکړ .

حالات او شرایط ډیر وحشتناک او ویرونکې او هره دقیقه موژوند له ګواښ سره مخامخ و د ټانکونو کړکې او دروازې مو کلکې بندې کړې او په موږکانو مو د رندې ډزې پیل

کړې د وی زموږ په ډزو نه خلاصیدل خو د ټانک د ډزو له آوازنه په ځنګله کې پټ شول موږ پخوانیو ورانو او ویجاړو دیوالو ته ځانونه ورسول او دلته مو امنیتي تدابیر ونیول ، د تیرو د دیوالونو په سپړلو او کیندلو مو پیل وکړ چې یو د اوسپنې صندوق د ډیرو لاندې راپیدا شو ، په صندوق کې یوه کتابچه پرته وه چې په غور تو کراؤ تو ته کې تاو شوی وه په کتابچه کې په جرمنۍ ژبه ښه واضح لیکل شوي و او زه په جرمنۍ ښه پوهیدم په کتابچه کې لیکل شوي و . موږ دری تنو آلماني جیو لوژستانو په موږ کانو تجربې وکړې په یو موږک کې مو « جینونه » پیچکاري کړل ، د دې جینونو « ځانګړې او « جنیتیکي » خصوصیات داوه چې موږکان ډیر ژر ژر په لویو او خطرناکو موږکانو بدلیدل جکسن او ملګرو ته یې معلومه شوه چې د وی د مرګ په برخلیک اخته شوي او بالاخره د دی (۳) تنو جیولوژستانو د تری تم کیدو معما پای ته ورسیده .

# اندونیزیا دعیسائیت په بحرانو کې ❷

**محمد الله «نورستاني»**

نوموړي تهیږد میګاواتي خاص اعتمادي او دهغې د جمهوري ګوند مرستیال دی ، میګاواتي په ده دومره اعتماد کوي تردې چې څوځله یې اعلان کړی چې دې به د ګوند مشر مقرر وي ، داقتدار دلاسته راتلو په صورت کې به اصلي فیصله او دوزارتونو ویش تهیږ کوي فی الوقت میګاواتي ته داقتدر لپاره په لاره او اړولو بوخت دی ، جمهور رئیس وحید چې میګاواتي یې دشورش د خپلو مشره مقرر کړی وه د تهیږ په شوری باندې میګاواتي هلته چوټیا غوره کړه چې نتیجتاً هلته هنګامي او فسادات زیات شول ، داجزهه تولو ته معلومه ده چې میګاواتي په مسیحي کارکونکو او سلاکارانو باندې خاص اعتماد کوي دارنګه داندونیزیا

داستخباراتو تولني (B.A.K.I.N) مرستیال جنرال « یوس منکو » او د نوموړي تولني مشر « اري جیفري » او د پوځ دستراتیژیکي استخباراتو مسؤل تورن جنرال شیوم او نورهم عیسویان دي .

په دومره حساسوادارو کې دعیسویانو مقررول څه دبرابري یا تصادف خبره نه ، بلکې د یوه دانسته یوه د سیسې او منصوبې خبره ده اوس کله چې په عبدالرحمن وحید باندې د ۳٦ کروړوډالرو له قومي اداري (بلوګ) نه دغصب کوم توردی او ۱٦ میاشتې ترمخکې دنوموړي نږدې اتحادیانو امین رئیس (في الوقت دقومي مجلس (M.P.R) مشر) دپارلمان ویاند اکبرتا جنګ او دولس مشر مرستیاله

میګاواتي له ولس مشر وحید نه دجدایي اعلان کړی نو عیسوي ډلو خپل کوښښ یو ځل بیا تیز کړی . له برطانیې نه خپریدونکي مجلې (اسپیکت انټرنشنل ) (مارچ ۲۰۰۱ ) له رپوټ سره سم دعیسویانو داتکتیک پاتې شوی چې اسلامي قوتونه دې سره وویشل شي ، نهضت العلما » او محمد یه » دوه اسلامي ګوندونه دي ددوي ترمنځ دتفریق اودخلاپه زیاتولو کې دې ډلې (عیسویانو)مهم کردار ترسره کړی . دنهضة » مشرعبدالرحمن وحید دی ، کوم چې د ٤٤ کروړو افرادو دعویداردی چې له بلې خوا امین رئیس د « محمدیه » مشردی ، په کومو سیمو کې چې فسادات

شوي یا اوس جریان لري هلته مسلمان عالمان ، استاذان او مشران ترتېرلو دمخه ترور کولای شي خواه هغه که په ختیځه جاوا کې وي او که په اچې یا مدوراکې ، دختیځ تیمور په څیر په مختلفو ایالتونوکې عیسویانو ، تربیت یافته کماندو او نیمه پوځي ډلګې منظمې کړي په « ملاکا » کې « ریډپوځ » او په « سلاویسي » کې « بلیک بیټ » پوځونه دمسلمانانو پرخلاف په موضع کې دتیارسۍ په حال کې ناست دي .

په اندونیزیا کې میشته عیسائیانو ترټولو متحرک او مهم محاذ « رسنۍ اداري » دي او داندونیزیا په اړوند تازه او ګرمې ګرمې خبرې له هیوادنه بهر تر لیږي ، اندونیزیا بدنامولای شي او دغیر ملکي ادارو لکه « نړیوال بانک » او د ملګرو ملتونو او دنوروبین المللي

ادارو اثرونفوذ دزیاتولو په خاطر هرممکن کوښښ کولای شي .

ددغوحالاتو تقاضه ده چې د « امت » دردمنداو فهیم عناصرد اندونیزیا په لاز یاتو بحرانو کې له لویدونه وژغوري دولتي او غیر دولتي داسې سیمینارونه منعقده کړي شي چې پکې دحالاتو صحیح تجزیه او اندونیزیا دې دعیسویت له ځپو وژغوري د « اسرائیلوقیام » دختیځ پاکستان (بنګله دیش ) جلاکیدل او په ختیځه اروپاکې دمسلمانانو له عام وژنې وروسته داندونیزیا په بحرانو باندې چو پټیا اسلامي امت ته جبران ناپذیر نقصان رسوي د « اندونیزیا ... عیسائیت کې ز دمیس ا » د « اخبار امت » کالم د « محمد ایوب منیر » له اردو مضمون څخه په معمولي کمې او تصرف سره پښتو ژباړه ترجمان ( اپریل ۲۰۰۱ ) .

# په اسلام کې داستخباراتو ارزښت ۳

**داستخباراتو دلوي ریاست له خوا**

محمد جمال الدین علی محفوظ ددې حدیث له نقل وروسته لیکي چې (داحدیث موږ ته لاربښونه کوي چې له جګړې دمخه دنظامي استخباراتو په واسطه ددښمن په هلکه معلومات راټول کړو داد هرقوماندان او مشر دنده ده چې ددښمن دجنګي وسایلو ، پیاوړتیا ..... ، په هلکه معلومات راټول کړي ، داحدیث څرګندوي چې صحابه و د خپل امیر څومره ښه اطاعت کاوه تردوه ورځو دهغه خبره یې بې له ولې او څنګه ومنله نه یې دلیل وغوښت او نه ..... ، نه عبدالله او ملګري تردوه ورځو پوهم پدې نه پوهیدل چې د څه لپاره روان دي او رسول « ص » کومه دنده ورسپارلې ده چې داپه استخباراتو کې د رسول الله « ص » ددقت او توجه څرګندوي

دي . همداراز داحدیث څرګندوي چې رسول الله « ص » غوښتل چې د مدینې یو او سیدونکي هم که کافر وي او که مسلمان له دې نقشې او د رسول الله « ص » له دې پلان څخه خبر نشي ځکه چې کیدای شي په مدینه کې دقریشو جاسوس وي یا بل څوک دنفس کمزوري ولري چې اسرار او راز ونه ساتلی شي او د رسول الله نقشه رسوا شي . استخباراتي کار چې دالله « ج » درضا دهغه په لاره کې وي او خلک بې ځایه ونه څوروول شي ډیره سپیڅلې دنده ده او ډیر اجرونه هم لري حضرت حذیفه دیمان ز وی روایت کوي چې زه ( دخندق یا احزابو دغزا په شپه د رسول الله ترڅنګ وم هغه وفرمایل )( څوک به ددښمن خواته ورشي او د هغوی له حال او احوال څخه به موږ ته راپور

راکړي چې په بدل کې به یې الله « ج » ورته جنت ورکړي ) دحدیث په متن کې داجمله هم راغلې چې آیا داسې څوک شته چې ددښمن په اړه موږ ته معلومات راکړي ؟ چې دښمن څه کړي دي چې بیا داسړی په جنت کې ما سره ملګری وي ) . رسول « ص » دبدر دغزا لپاره داستخباراتیا نو پنځه ډلې ګمارلي وې مسلمانانو غوښتل چې دقریشو هغه دسوداګرۍ کاروان ودروي چې دهجرت په دوهم کال شام ته روان ؤ . خو هغه یې له لاسه ووت رسول الله « ص » طلحه د عبیدالله « رض » زوی او سعید د زید « رض » زوی ته دنده

ورکړه چې ولاړ شي او د قریشو احوال راوړي کله چې دوی ( حورا ) ( دنام او مکی ترمنځ یو ځای دی ) ته ورسیدل نو هلته منتظر شول کله چې کاروان ددوي ترڅنګ تیرشونو په بیړه یې ځان رسول الله « ص » ته ورساوه او رسول الله « ص » هم له مدینې څخه دوتلو نیت وکړ صحابه وته یې وویل : دادی د قریشو کاروان راورسید راووځئ هیله ده چې الله « ج » به داکاروان ستاسو په برخه کړي ) مسلمانان هم په ډیره چټکتیا د سره ووتل چې هسې نه کاروان یې له لاسه ووځي او خپل استخباراتیان یې هم

خواته ځپاره کړل کله چې دوی صغرا ( د مدینې اړوند کرهنیزه ځمکه ده ) ته ورسیدل نو رسول الله « ص » ددښمن دحال دمعلومولو لپاره دوه تنه بدرته ولیږل کله چې دادوه تنه « دفران » ته چې د « صغرا » ترڅنګ پرته سیمه ده ورسیدل وې لیدل چې قریش دخپل کاروان دملاتړ او خلاصون لپاره راوتي دي دوی د اخبر رسول الله « ص » ته ورساوه او رسول الله « ص » هم خپل صحابه له دې نوي انکشاف څخه خبر کړل او له هغوی څخه یې مشوره وغوښتله مهاجرو او انصارو په ګډه وویل چې له قریشو سره جګړې ته روان شول تردې چې بدرته

ورسیدل داخل رسول الله « ص » په خپله دحضرت ابو بکر صدیق « رض » په ملتیاروان شو ترڅو دقریشو له حال احوال او وضعیت څخه ځان خبر کړي په لاره کې له یو بوډا سره مخ شول رسول الله « ص » تري دقریشو او حضرت رسول « ص » او دهغه دیارانو په اړه وپوښتل چې څومره معلومات لري هغه بوډا ورته وویل چې تر هغه به معلومات درنکړم ترڅو تاسې ځان راونه پیژنئ . رسول الله « ص » ورته وفرمایل ( که ته موږ ته معلومات راکړې موږ به هم تا ته معلومات درکړو ) رسول الله « ص » دهغه بو

ډاله خبرو او وضعیت څخه پوه شو چې قریش ورته نږدې را رسیدلي دي او هغه بوډاته یې وویل چې موږ له اوبو څخه یو .

داحدیث څرګندوي چې اعلی سرقوماندان باید یوازې دنورو په خبرو نو بسوالۍ ونکړي باید پخپله هم خبرونه راټول کړي او ددښمن له کیفیت او حال او احوال څخه ځان با خبر وساتي او اسرار او راز ونه یې هم مخفي وساتي لکه رسول الله « ص » چې له عرب بوډا څخه خپل سر (پټ ) او راز وساته ان چې ځان یې هم ورونه پیژاند ترڅو قریش ددوی له عزم ، ارادې او داوسیدلو له ځای څخه خبر نه شي .

چـــې کـــشور دافـــغـانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی

# دشعر او ادب نړۍ

## لویه خدایه «ج»

علم گل سحر

لویه خدایه تـه رحیـم یې ته رحمان یې
مهربانه په کافر پـــه مسـلمان یـې
بې له ستنـــې لوړ آســمان دې درولی
ته خالق د دغـــې ځمـکې او آسمان یې
بې له تانه بل معبــود نشـــته نړۍ کې
زما ربه ته د تـــول جـــهان سلطان یې
دا ستا ذکر په ژوندی مخلوقات فرض دی
په جهان کې دهـــرچـــا روزی رسان یې
مـــوږ دې رحـــم او کرم ته امیدوار یو
زمـــا ربـــه ته پـــه هرچا مهربان یې

## باید څه وکړو؟

محمد اباز (ترنک)

محمد ایاز «ترنک»
په څه زاره ترکـو یې له بوې جگې
نرۍ دوری نه د څوگـــنـــو شنو
سپاندو په لمن پوري لاسونه ونیول
، ټول سرسامه سپیره صبره له
ستریا یې اتام خواته نه کیدو .
بنه ساعتکي ورسته یو وروکی
بریوکی (توژمـه) چې تازه یې
بوښکر مات شوی واوږد اسویلی
وکیښ وویل : اخر ترڅو به تاک
له تاکه گرځو هدیره او نغری مونه
وی معلوم .
دوهم بریوکی (لـکی) چې پنبـه
یې څو ځایه ماته وه سر راپورته
کړ ویې ویل : ته بنه وایې سروکال
د باد ږاله ته گدیږو هغه ظالم مو
کله له یوه کله له بله دیواله وهی
تولی کوځې په موږ ډکې وی .
له هاخوا یو غټ بریوکی چې ډیرې
گډېدا سوتی موتی کړی ؤ وویل :
څه وکړو دا نو قسمت دی په ازل
کې په دغسې راته لیکلی وی که نه
دچا آرام ژوند زره نه غـــواړی .
وروکی بریوکی په خوله کې ورو
لوید «توله واوره د ازل پریام مـه
وراچوئ یو څه له تاسې مشـرانو
هم را توده ترسپینی ژیری د خپل
سبب خاوندان نه شوئ » .
لوی بریوکی به لاځه ویلی وخو په
ځنگ کې ولاړی سپاندی بې وار
ونیوی ویې ویل : څه پیښه ده چې
ډیو بل تر خـولو لاســونه سـره
تیـروئ ؟ مشـر بریوکی وویل :
سپین سترگی زمانه ده دنیکونو
په ژوند پوری خاندی . سپـاندی
وویل : واړه هم گـرم نه دی کـه یو
کـار وکـړئ د ټل لپـاره به د آرام
ژوند خـاوندان شئ . ټولو په گډه
وویل : بنه سپاندي توري باید څه وکړو ؟
سپـاندي وویل : ترشنه کیـدلو
مخکې بیخ بنه مزغن کړئ ریښې
وغځوئ بیا که هر څو تیز بادونه
دربـاندې وچلیـږي پښـې مـوله
ځمکې نه شـي ســپـکولای .
سپـاندی یو څه سـاه ونیوه بیا یې
وویل : تاسـو لکه ناپوه انسـانان
ترچورت مخکې په کار پیل کوئ
، کـال لا دژمي پوســتین نه وی
غورځولی تاسو بیا تر ټولو وښو
مـخکې پسـرلی ته سـتـرگـې
وربنکاره کـړئ کـه دا تر وخت
مخکې توگیدل پرې نه ږدئ خدای
خبر چله پل موږ مرو ایرو پیداشي.
بریوکو نوري هم غوږونه سپاندي
ته ورنږدې کړل . سپاندي وویل :
که مې وهی نه یو څه د لیونو لږ هم
درگډ ده چې لاروبانو ته نیبونه
وراچوئ مـاته نه گـورئ دخپلې
خـاوري لمن مـې تینگه نیـولی ،
چاته ضرر نه رسوم د علاج لپاره
یې لا الایده پرسکرو ټو ځان نیـنی
کـوم ، داده خـدای هرڅه پرکـوږ را
رسوی او هر څوک مې سَیده بولی
، ـــــــــــــــده !!

## لطف حق

شکیلا

بــاغ خــالـــی از آزار میبینم
در بـرش گــل و گـلعـذار میبینم
دشـــمنـــان وطـــن را زبـــون
ســـرنـــگون وسـربه دار میبینم
بعــمر رضـــا حق تعالی خویش
کـار مـــومـــنان پیـــکار میبینم
دامـــن کـــوه وسیـــنه صحرا را
دور ازخـــس وخـــار مـیـبینم
می شکند صد روسی انگلیس دیـگر
وطنم ز لطف حق نگـهدار میبینم
عـلم پـــاك دیـــن حـــق را
به اهـــتزاز و چراغ دار میبینم
هـزار دارد بر شهیدان راه دیـــن
لالـــه هـا ســـرخ بیشمارمیبینم
یا رب زجـور روزگـــار چـــه تالم
باران رحمـــت بسیـــار میـــبینم
برگـل زمـــین وشعـــرادب خدا«ج»
صـــد چراغ نورو جمال آشکار میبینم

## وینې یې کړو

یحیی «گلمزی»

تاو دې لـــه دنگې غاړې نه کړو له کتاره وزو
لکـــه امیـــل دانه دانه چې اوس له تاره وزو
د تنهایی په بیـــابان کې مـــو پټ راز د الفت
لاړو په دود دمـــجانیـنو لـــه دې بناره وزو
آسمان مغرور شو راته کاني په تندې ماتوي
د توان یـــې نه یو خو د ستورو له مداره وزو
د هوډ قدم مـــو پر سکړوتو شورفریاد نه کوو
مونږ چې سهار غرمه ماښام په دغه لاره وزو
لـــکه بـــورا به بـــدرگې د نشو ځی را سره
چې د ژوندون لـــه زهرجن بوټی کوکناره وزو
سرخې بې راکړه اننگو «یحیی» چې وینې یې کړو
ډیر په هوس د زړه له زخمه لکه داره وزو

## نوره بس ده

علی محمد منگل

ای دکړې لینديې (ماشې) مغروره چلوونکیه !!!
داستا دیاغی لینديې د چلولو لاندې :
زموږ کښتونه او فصلونه ورک شوه .
د کښت او فصلونو په هیله :
داشنډ پټی ،
او وچې دښتې لیدی نه شم .
تا ، خپله توره ږیره :
د خپل ولس په وژلو او قتلولو سپینه کړه .
زیاتې پرېږده ،
چې داشنډ پټی او دښتې راشنې شی :
د زیږو غنمو او للمیو په کښت ،
داشنډ پټی او دښتې زیږ گلان شی .
ای د کړې لینديې مغروره چلوونکیه !!!
ستا دابې ځایه توره ،
د خپل ولس ،
او وطن سره لویه دښمنی ده :
د وطن په تاریخ کې به دې تل نوم تور وی ،
نوره بس کړه :
دادکړې لینديې یاغی چلونه ،
نوره بس ده ،
نوره بس ده .

## په پښتو شعرکي مذهبي څرکونه

د ثبات لیکنه اوڅیړنه

۱۰

وگورئ چې رحمان بابا خپل دیوان په یو هغسې حمدیه او مناجاتي کـلام پیل کـوي چې په هر بیت کې دخـدای تعـالی د سپېڅلو صفتونو ، قدرت او حکمت ، وحدت ، ازلیت او ابدیت ، د جلال ، کمال او جمال او بې مثلتوب د لوړو مظاهرو څرکونه ښېځي ځلانده دي ځکه وایې :

گوره هسې کردگار دي رب زما
چې صاحب د کل اختیار دي رب زما
همگي بزرگواران چې څوک یې وایي
تر همهؤ بزرگوار دي رب زما

او کـه د وروسـتـیوبیتونو محتوا یې خلاصـه شي ، نو رحمان بابا په دې حمدیه کـلام کې د لوي خداي «ج» د بې نیازي ، له نیستـی د هست کـولو د قـدرت ، دخـالقیت ، لاشریکی ، د علم الغیب ، د وحـدانیت او داسې نورو صفتونه وړاندې کړي او په دې مقطع یې پاي ته رسولي دي .

هیڅ تغییر او تبدیل نه لري رحمانه
تل ترتله برقرار دي رب زما

او یا په بوبل مناجات کې یې لاهوتي جذباتو داسې ځلا موندلي ده

په نامه د هغه خداي مې دا بیان دي
چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دي

د رحمان بابا په دې عرفاني او یزداني کلام کې د لوي خداي صفتونه داسې ښودل شوي دي .

لوي خداي مالک الملک دي ، مشـکل کشـا ، قادر او توانا دي لکه چې لمر یې په اسـمـان کې را خپېږولی دي ، لمر په وریځو کې پټولای شي ، د شپې له خوا سپوږمۍ په ځلا را ولي ، باران اوروي ، روح العـالم دي ، له خاورو گـلان پیدا کـوي ، له اوره یې ژمي خلق کـړي دي ، د ملغلرو پیـدا کـوونکی دي رازق دي ، مومن ته یې ایمان ور په برخه کړي ، عیسـا روح الله یې اسـمـان ته خېږولي دي ، موسي «ع» ته یې د کلیم الله لقب وربخښلي دي سلیمـان «ع» ته یې د هوا او ځمکې پاچهي ورکړي ، خضر «ع» ته یې ترقیامته ژوند ورکړي ... ځمکه ورته په سجده ده ، اسمان ورته په رکوع دي هره ونه ورته په قیام ده ، هره گیاه یې ثنا خوانه ده ماهیان یې په بحر او مرغان یې په چمن کې ثنا وایي ...

مـعـرفت یې لا یتناهي دي ، شـریـک نه لري ، بې زواله او بې زیانه دي له شک او شبهې څخه پاک دي ، په سترگو نه لیدل کیږي جسم نه دي بې کیفیته موجود دي ، هرچا ته ډیر نږدې دي .او بالأخره د رحمان بابا دا حمدیه کلام په دې مقطع حسن مقطع کیږي :

لهزرگونو صفتونو راشه گوره
چې یې کړي نیم صفت عبدالرحمن دي

(د رحـمـان بابا دیوان پښـتـو ټولنه ، ۱۳۵٦ هـ ش دولتي مطبـعـه کـابل ۱۵-۱٦ ۱۹۸ مخونه )

د دې لپاره چې د رحمان بابا د دیوان له بحره مو یزداني تصوفي او عرفاني یو څو څاڅکي د انتخاب په توگه گل چین کړي دي ، نو بوازې د نموني په توگه یه یو شمیر بیتونه اقتباس کړو .

د تصوف په هکله :

که نظر کا څوک په کار د درویشانو
خود به وپنې وقار د درویشانو
په دغه لار به ورشي خداي رسول ته
که څوک بون کاندي په لار د درویشانو
په یوه قدم تر عرشه پوري رسي
ما لیدلي دي رفتار د درویشانو

د غافل بنده د تنبه کولو لپاره هغه د یوم الحساب ورځې ته داسې متوجه کوي:

ورځ دې تیره په شومی کړه شپه له خوابه
خدای به کله یادوي خانه خرابه
دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه
راستولي خداي حساب دي په کتاب کې
خبر دی زده کړه له حسابه له کتابه

او دخداي پاک سره په مینه کې د بندگی مقام داسې بیانوي

له اوله بندگي بیا ازادي ده
که مقصود د آزادي لري غلام شه

پاتې لري

## استاذ ویل!

مرحوم گل پاچا الفت

گل پاچا «الفت» نثری ملغلرې

استاذ مونږ ته درس را کاوه او مونږ یې ډیر ښه پوه کولو .

د ده په تعلیـمونو اجتـمـاعی شعور او احساس ډیر قوی کیده او په مغزو کې بیداری پیدا کیدله . ده مونږ ته د حساب او محاسبې اصول هم را ښودل او ویل یې تاسو باید هر وخت له ځانه سره حساب وکړئ او حسابی خلک اوسئ !

یوه ورځ یې دحســـاب په درس کې مونږ ته ویل :

کـه یو عـدد له بل عدد سـره داسې یوځای کړو چې یو پاس اوبل لاندې وی لکـه ⅟ نـو څلور (٤) ترینه جوړیږی او دیوه وجود په بل کې محوه کیږی او استـقلال یې ورکـیـږی . مگر کـه دواړه څنگ په څنگ یوځای کړو لکه (۲۲) نو دوه ویشت ورځنې جـوړیږی او دوه شل کـیـږی د دواړو عـددونو شکلونه او صورتونه هم په خپل حال پاتې کیږی .

ځکه چې په دې صـورت کـې د ملگرتیا اتفاق او ورور ولی راز پټ دی او په هغه بل صورت کې تفوق ، تسلط او محوه کول مضمر دی .

ده ویل کـه د اتفـاق او ملگرتیا په صـورت یو تن په ځان پســې بل روان کـړی شی نو قـدر او مقـدار یې ډیر زیاتیږی او مرتبه یې لوړیږی .

(یعنی له احـادو نه عـشـراتو ، مئاتو او الوفو ... ته خبره رسیږی ) .که یو د بل په اوږو سپریږی او بل د بل په اوږو نو کـه پنځه تنه وی یعنی پنځه الفونه یو د بل په سر د پاسـه کیږدو هماغه پنځه ورځنې جوړیږی او شکل و صورت یې هم محوه کیږی.

زمونږ استاذ مونږ ته په حساب او ریاضی کې هم د اجتمـاعیـاتو او سیاسیاتو فلسفې درسونه راکول او مونږ یې پوه کـولو چې باید یو له بل سره داسې یو ځای شو چې د تنازع په میدان کې څنگ په څنگ ودریږو او څوک د چاپه ســـر باندې پښـــې

کښېږدی ، یو دبل استـقـلال سلب نه کړی ، د لاندې کـولو او محـوه کـولو غرض په کې نه وی بلکې یو د بل درجه او مرتبه لوړه کړی.

ده ویل : مونږ به یو مخکې کوو او مشر کوو به یې مگر یو د بل په سر نه سوریږو او دبل د ټیټولو چیه نه کوو .

زمونږ استاد داهم ویل :

کـه مونږ دوه مســاوی عـددونه لـکـه (۱-۱) -(۲-۲) (۳-۳) هر یو له بل نه وړاندې وروستـه کـړو نتــیـجـــه یې یوه ده مگر په دوو متفاوتو عددونو کې تقدیم او تاخیر ډیر فـاحش فـرق را ولی او په مقدار کې ډیر تفاوت راځی .

که مونږ یو او نهه یوځای کوو او داسې یې لیکو (۱۹) نولس کیږی ، مگر شل کیږی نه .که هم دغه دوه عـــددونه داســـې ولیکل شی (۹۱) خبره سلو ته نږدې کیږی او ډیر زیادت پکې راځی .

همـدغـه سـبب دی چې په پوهو جوامعو کې هغه څوک د مـخـه کـیږی چې قـدر او مقدار یې له هغه بل نه زیات وی او د ده په مــخکې توب باندې د جامعې قدر او قیمت ډیر لوړیږی .

مونږ باید په دې سُر پوه شـو او د هرچا استـعـداد ، معـیـار ، مبلغ او مـقدار ته وگورو .

# اعـــلانـات

وحید اصیل روغنیات مورد ضرورت د افغانستان بانك را طور ذیل نرخ داده است.

میلائیل دیکمز دوصد گیلن فی گیلن پنجصد و چهل و هشت هزار افغانی فلتر میلائیل موتر سراچه وفلاینکوچ صد دانه فی دانه مبلغ یکصدوچهل و پنج هزار افغانی•فلتر دیزل موتر میلائیل میتی بوس بیست دانه فی دانه مبلغ یکصدوپانزده هزار افغانی -بیست دانه فلتر دیزل موتر میتی بوس فی دانه مبلغ یکصدوسی هزار افغانی ، فلتر میلائیل موتر لندکروزر ویجرو چهل دانه فی دانه مبلغ دوصدونود هزار افغانی ، فلتر دیزل موتر لند کروزر پجرو تعداد چهل دانه فی دانه مبلغ دوصدو نودو پنجهزار افغانی فلتر میلائیل موتر دینا ده دانه فی دانه مبلغ یکصدو شصت و پنجهزار افغانی ،فلتر دیزل موتر دینا ده دانه فی دانه مبلغ یکصدو پنجهزار افغانی ،فلتر میلائیل موتر تیوتای نیسان تعداد ده دانه فی دانه مبلغ یکصدوچهل هزار افغانی ، فلتر تیل موتر تیوتای نیسان ده دانه فی دانه مبلغ یکصدو بیست هزار افغانی ، ویکم جرمنی پنجاه قطی فی قطی مبلغ یکصدو ده هزار افغانی ، سیائیل لندنی پنجاه کواتر فی کواتر مبلغ یکصدو بیست و پنج هزار افغانی ، گریس ایرانی بیست ویك کیلو فی کیلو مبلغ یکصدو هشتاد هزار افغانی .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات د افغانستان بانك بسپارند وخود شان از تاریخ ۹-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

حاجی نورالحق فرزند حاجی محمد الدین سنگ شاه مقصود فنی پرخه ولسوالی ماماخیل را فی تن مبلغ ۹٦.۷۲ دالر امریکایی برای مدت یکسال قرارداد مینماید .

مزایده کننده گان درخواست های خویش را بریاست تصدی استخراج معادن بسپارند وخود شان از تاریخ ۷-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

عبدالخالق فرزند محمد امان دوکان نمبر ۲ ساحه جدید مکروریان اول را ماهانه مبلغ دو ملیون وچهل هزار افغانی برای مدت دوسال طور قرارداد بکرایه میگیرد.

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط ریاست تصدی تدویر ومراقبت مکروریانها واقع بلاك ۲۳ مکروریان ۱-۲ بسپارند و خود شان از تاریخ ۹-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

شرکت نساجی افغان دوزاده قلم پرزه جات ماشینهای تولیدی ضرورت فابریکه پلخمری را به قیمت مجموعی مبلغ دوازده ملیارد و هشتصد و پنجاه وهفت ملیون و چهار صدو پنج هزار افغانی از عبدالناصر نماینده شرکت منصور کاروان لمتد مطابق شرطنامه در مقابل مشروحات رسانده پلخمری نرخ گرفته است.

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا با ارائه نمونه پرزه جات به آمریت اقتصادی و فروشات نساجی افغان واقع سرك پنج تایمنی بسپارند وخود شان از تاریخ ۸-٤-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند لست مشخصات وشرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

شرکت ساختمانی [illegible] کلان حروف نویس به سایز ۱۲۲-۲۲ سانتی متر ضخامت پانزده ملی هفت پوست امدارس شهر کابل ) پنجصد تخته فی تخته مبلغ هفتصد هزار افغانی قرارداد مینماید .مناقصه کننده گان درخواست ها خویشرا بمدیریت خدمات ریاست تعمیرات وزارت معارف واقع ریاست مطبعه معارف بسپارند وخود شان از تاریخ ۸-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه و مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

مهر و کارت اخذ ادویه جمال زاده درملتون نهرین ولایت بغلان ملکیت رحمت الله فرزند حاجی عبدالفتاح مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.

***

وزارت امور سرحدات وقبایل چهل قلم پرزه جات جدید روسی وپنج قلم ترمیمات ورنگمالی موتر کاماز مربوط خویشرا به قیمت مجموعی مبلغ یکصدو چهل ونه ملیون وسه صد هزار افغانی از بازار نرخ گرفته است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بریاست اداری وزارت سرحدات بسپارند وخود شان از تاریخ ۸-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند لست سامان و شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست اکادمی علوم امارت اسلامی افغانستان به سی وسه قلم قرطاسیه ضرورت دارد .اشخاص و موسساتیکه خواهش عقد قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بریاست اکادمی علوم واقع شیر پور بسپارند وخود شان از تاریخ ۸-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند دوفیصد تأمینات اخذ میگردد .

## نامه واداره

### آیا مامورین هم برادر اند نه برابر؟

به اداره محترم روزنامه شریعت ارگان مرکزی نشراتی امارت اسلامی افغانستان!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

روزنامه شریعت بحیث آئینه تمام نمای حقایق جاری کشور و کلید حل مشکلات مردم جای خاصی در بین نشرات کشور برای خویش احراز نموده است ، بدین وسیله مشکل یک تعداد کارمندان امارتی که در ساحات بی برق شهر کابل سکونت دارند خدمت تحریر میداریم امیدواریم موضوع را به گوش مسئولین خاصتاً کمسیون اقتصادی شورای وزیران برسانید تا با شد در حل آن اقدام عاجل نمایند .

از آن جائیکه امارت اسلامی در راه بهبود زنده گی مردم قدم های متین و استواری را یکی پی دیگر برمیدارد در این اواخر به مشاهده میرسد که در قیمت مصرف برق برای کارمندان امارتی پنجاه فیصد تخفیف به عمل آمد که کاریست شایسته اما مشکل کارمندانیکه در ساحات بی برق شهر کابل سکونت دارند هیچ در نظر گرفته نشده است .

در حالیکه مامورین امارتی که در ساحات بی برق شهر سکونت دارند در هربرج اضافه از یکصد هزار افغانی را تنها مصرف تیل ارکین و لمپه مینمایند . امیدواریم مسئولین امور در زمینه توجه جدی و خاص نموده و در معاش این طبقه مردم یک افزودی به عمل آورند .

والسلام

غلام قادر از مطبعه امارتی

## ٤٥ تولید خدماتي ..

بو سلو پنځه ویشتو اقتصادی اوخدماتی پروژو ته ددغی اداری له لاری دفعالیت تصدیق ورکړ شوی و چی دغه ټولی پروژی فعالی دی .

خصوصی متشبثینو ته داسانتیاوو برابرولو په خپله په هیواد کی خصوصی متشبثینو ته دپانګی اچولو زمینی برابری کړیدی .

## اهل تشیع در ...

شریعت اسلامی بنا یافته تشریح کرده تحرکات نظامی مخالفین وپروپاگند های که در حمایت آنها براه انداخته شده بی نتیجه خوانده برهمبستگی اقوام افغانستان تاکید ورزید بالمقابل محترم تقدسی اعمال جنگ طلبانه مخالفین را تقبیح نموده از همکاری خویش هر عرصه های گوناگون وعده سپرد .

## ریاست مطالعه ...

مطابق این قوانین وخواست ها جامعه در کشف معدنیات ، منابع بزرگ آبی منابع بزرگ زراعتی وغیره موفق میگردد که این دستآورد و پیشرفتها تنها از طریق کسب علم صورت میگیرد .

از آنجائیکه ریاست عمومی مطالعه ونقشه برداری زمین یگانه ارگان مرکزی به پیشبرد و انکشاف خدمات نقشه برداری امور جیودیزی ، کارتوگرافی ، کدستری ، وخدمات کیهانی کشور بوده مکلفیت دارد تا نقشه های مختلف المرام ومختلف المقیاس را بمنظور حل مسایل علمی و تخنیکی در ساحه پلان های پرورژه های انکشافی ، اقتصادی و امور دفاعی کشور تنظیم نماید . زیرا در مرحله اول مطالعه و طرح دیزاین ، ساختمانهای تعمیرات ، بند و انهار سرکها ، زراعت و مالداری ، اصلاحات اراضی ، کانال های آبیاری ، انرژی برق ، معادن و صنایع ، بالخاصه امور دفاعی کشور نیاز مبرم بنقشه ها و مواد جیودیزی ضرورت احساس گردیده ، زیرا در صورت عدم موجودیت مواد فوق هیچ یك از پروژه ها انکشاف کرده نمیتواند و روی ملحوظات فوق مسئولیت ها ومکلفیت های این ریاست در مرحله کنونی که کشور جنگ زده ما به باز سازی و احیاء مجدد عرصه های مختلف نیاز دارد بیشتر از پیش احساس میگردد .که با وصف عدم موجودیت سامان آلات فنی قرطاسیه جات وسایل ترانسپورتی مشکلات ساحوی ، کارکنان ریاست عمومی مطالعه و نقشه برداری زمین با امکانات نهایت ناچیز و محدود توانسته اند طبق ذیل اجرا ات نمایند :

در ساحه ریاست مطالعه سطح زمین اجرا ات بخش های ریاست مذکور عبارت از چك و کنترول ۹٦ قطعه نقشه یك بر ده هزار کندهار ، چك و کنترول شش قطعه نقشه های یك بر دو هزار شهر مزار شریف بر رسی ده قطعه نقشه یك بر ده هزار تجدید اماده ساختن دو قطعه نقشه یك بر پنجاه هزار تجدید ، طبع نقشه یك بر دو ملیون ، طبع فورمه جات ، تطهیر و اجست نمودن ماشین های طباعتی ، ترمیم و عیار ساختن سامان آلات در مرکز و نماینده گی های ولایات ، طبع نقشه های را تشکیل میدهد که امور ساحوی بخش مربوط بنا بر یك سلسله مشکلات عایده صورت نگرفته است

در ساحه ریاست سروی کدستر :

ترتیب و تطبیق مجدد لست مالکین و کارت های توحید ملکیت ، ترتیب نقشه های توحیدی ، همکاری به ادارات املاکی و سایر بخش های امارتی و سروی های موضوعی بنا بر لزوم دید مقامات صالحه کشور ، در مرکز و نماینده گی های آن در ولایات صورت گرفته و هکذا بتعداد هشتاد قطعه عریضه در ارتباط به امور زمین داری از طریق این ریاست عمومی بر رسی گردیده سفر های کاری در نماینده گی های ولایات صورت گرفته از مدارك حق الزحمه خدمات کدستری مبلغ ٣٦١٧٦٠٠٠ افغانی بحساب واردات امارتی انتقال گردیده است .

در ساحه موسسه علمی و تحقیقاتی خدمات کیهانی :

تهیه کاپی دوم ،تصنیف نقشه های اراضی ، تهیه و ترس یك کاپی نقشه احصائیوی زمین های آبی للمی ، ترس نقشه خاك ولایت پکتیا و پروان،ترس نمودن نقشه شکستگی ولایت کابل ، ترس نقشه، هایدروگرافی ولایت پکتیا عمدتاً اجرا ات این ریاست را تشکیل میدهد .

در ساحه تعلیم و تربیه :

تدویر کورسهای فنی و مسلکی داخل خدمت بمنظور ارتقای سطح دانش مسلکی کارمندان مربوط ، تدویر کورسهای اداری بمنظور و هنمایی کارمندان جدید الشمول وطلبای کرام .

هکذا بمنظور اکمال پرسونل فنی و مسلکی رشته های مختلفه نقشه برداری پیشنهاد بمقام صالحه تقدیم گریده تا در موسسات تحصیلی کشور در نظر گرفته شود .

محمد رفیق «عزت»

## دغور ولایت په ...

محترم مولوی عبدالرحمن حقانی په مشرۍ دولایت په مقرکی جوړه شوی وه داخلالګرانو ددلی دماتی عوامل وڅیړل شول او د قوماندانانو میړانه او زړورتیا چی ددغه ولایت دخلکو په مستقیمی همکاری سره یی داخلالګرانو په ځپلوکی ارزښتناک رول لوبولی و ،وستایل شوه .

په غونډه کی ویناوالو اخلالګری دلی چی دتورن اسماعیل په مشری ورمه روغ دغور ولایت په مربوطاتوکی دامنیت په ګډوډولو لاس پوری کړی و او غوښتل یی چی ددغه ولایت دمرکز چغچران ښار دادمن امنیت ګډوډ کړی دهغوی ټول ورانکارفعالیتونه اودسیسی په لومړیو ساعتوکی په دغه ولایت کی دمیشتو مجاهدینو په میړانی او زړور تیا سره شنډ کړای شوی او دهغوی دورانکار و فعالیتونو مخه ونیول شوه .

همدااوس دغور ولایت په مرکز او اړونډ و ولسوالیوکی دادمن امنیت تامین دی او داسلامی امارت چارواکی او په دغه ولایت کی میشت مجاهدین په حالاتو باندی په بشپړه توګه واکمن دی اوهره شیبه داخلالګرانو ددسیسو شنډولوته چمتو دی دچغچران په لور په جګړه کی دېر مغشوش په باب دمخالفینو ادعاله لهحقیقت څخه لری او دهغو تبلیغاتو دلری دوام دی چی غواړی په اوسنیو واقعیتونو باندی په سترګو پټولو

سره خپل پوځی شتوالی وښیی اوخپلو افرادوته مورال ورکړی دبی بی سی او دمشهد راډیو ګانو هم په زیاترو مواردو کی دمسالی حقیقت په پام کی ندی نیولی اوتل بی داسلامی امارت پرخلاف دمخالفت دریځ غوره کړیدی او کوچنی پیښی مهمی ښیی چی څرګند مثال یی دچغچران په ښار کی دجګړی دخبر په خپرولو کی افراط او تفریط دی .

## په پکتیکا کي ...

دپکتیکا ولایت له مرکز شرنی ښارنه دباختر اطلاعاتی اژانس خبر راکړ دکولرا ناروغی دکنترول په خاطر چی د روانی میاشتی په لومړیو وختو کی د پکتیکا ولایت دجانی خیلو او داومنی دولسوالیو په مربوطاتوکی خپره شویده دجانی خیلو په ولسوالی کی معالجوی کمپ جوړ شویدی .

چی تراوسه پوری یی دکولرا په ناروغی کابو شپیته تنه اخته کسان تداوی کړیدی .

خبرزیاتوی ددغی وژونکی ناروغی دخپریدو له امله تراوسه پوری دجانی خیلو ولسوالی شپږ تنه اوسیدونکی او داومنی ولسوالی پنځه تنه اوسیدونکی په حق رسید لی دی . دپکتیکا ولایت دعامی روغتیا رئیس محترم ملا عبدالبصیر عثمانی وایی دتړی دروغتیا یی سازمان په همکاری دکولرا په ناروغی داخته کسانو دعلاج او درملنی او په خپل وخت ددغی ناروغی دکنترول په خاطر جدی تدبیرونه نیول شویدی او هیله من یو چی خیریه سازمانونه په دی اړوند خپلی همکاری پراخی کړی . ده وویل ددغی وژونکی ناروغی زیاتره قربانیان ماشومان دی .

## دبانک په وړاندي ..

محترم محمودالله آخند زاده دباختر داطلاعاتی آژانس خبریال ته څرګند او زیاته یی کړه : کله چی دمرکزی بانک په وړاندی دټولو بانکنوټو ارزښت محفوظ دی زمونږ وطنوالوته هیڅ دول اندیښنه نه پاتی کیږی .

له دی سره سره مونږ خپلو ټولو نمایند ګیوته خبر ورکړیدی چی دتحویلی په وخت کی دبانک نوټو نو داخیستلو په وخت کی هم دغه مسالی په پام کی ونیسی څکه دپنځه سوه افغانیګی او زر افغانیګی نوټونو په ګډون ټول بانکنوټونه له خپل ارزښت څخه برخمن دی .

دافغانستان بانک محترم مرستیال یوی پوښتنی ته په ځواب کی وویل :

وخینو بانکنوټونو په بنډلونوکی دنوټونو دکموالی دمخنیوی په خاطر دمرکزی بانک له لاری یو لړ اقدامات شویدی خو ښه به دا وی څوک چی له خزانی څخه پیسی اخلی دهغو دپوره والی په باب دی له بانک څخه له ویښتلو مخکی ځیل داډ ترلاسه کړی .

## روپیه پاکستاني ...

ملاحظه زده اند ، بلکه توازن یا ترازوی این پروسه را از آغاز اولین صدمه تا الحال دریك کفه آن هم کفه بی ارزشی حفظ نموده اند .

از آنجا ئیکه هموطنان ما آگاهی دارند درین روزها بانکنوت های افغانی درمارکیت های عمده تبادله اسعار بازار خوبی پیدا نموده و به تناسب یکماه قبل ارزش افغانی تقریباً ۱۰تا ۱۵ فیصد درمقابل اسعار خارجی بالا گرفته است .

دلیل عمده بالاگیری ارزش پول افغانی را محترم حاجی شیراحمد معاون کمیسیون مشورتی سرای شهزاده درشهرکابل اینگونه توضیح داد :

بازار یابی خوب وصدر میوه جات افغانی به خارج ، هکذا تورید اسعار خارجی به کشور ازاین مدرك ، از دیاد تقاضای افغانی درمارکیت های تبادله اسعار و عدم تورید بانکنوت های جدید ده هزار افغانیگی از طی یکماه بدینسو به مرکز از طریق صفحات شمال کشور عوامل اساسی با لا گیری ارزش پول افغانی را در برابر اسعارخارجی تشکیل داده است.

وی یاد آورشد که یکماه قبل یك روپیه پاکستانی معادل ۱۱۸۰ افغانی تبادله میشد ، این درحالیست که امروز معادل ۱۰٤۰ افغانی تبادله میگردد.

محترم حاجی شیر احمد خاطر نشان ساخت که اگر بعداز این بانکنوت های جدید ده هزار افغانیگی داخل مارکیت های تبادله اسعار درکشور نگردد درآنصورت این امکان میرود که ارزش پول افغانی دربرابراسعار خارجی بیشتر از این بالا بگیرد .

مهربان

## امریکایي اتباع ...

ځانونه خوندی وساتی ، داځکه چی په تاجکستان کی سوله اوامنیت خراب دی او د امریکایی اتباعو لپاره مصؤنیت نشته .

## سعودي عربستان ...

ورکړ .دسوریی دتلویزیون شبکی دخبر له مخی د سعودی عربستان دبهرنیو چارو وزیر ویلی دی چی داسرائیلو دصهیونیستی رژیم دصدراعظم اریل شارون سیاست سیمه دناتاړیه لور راکاږی سعود الفیصل څرګنده کړه : شارون هلی ځلی کوی چی فلسطینیان دی ته اړ باسی چی دتل ابیب دنه منلو وړ شرایط ومنی . دیویل خبر له مخی دامریکا دبهرنیو چارو وزیر کولن پاول او دسعودی عربستان ولیعهد امیر عبدالله ورمه شپه په پاریس کی دمنځنی ختیځ دحالاتو په باب خبری اتری وکړی .

## یک قبر دسته ...

نزدیك بلگراد در ساحه بتاجینا کشف گردیده است .

خبر می افزاید در جنگهای سال

## جالب وخواندنی

### تقاضای رئیس بانك جهانی برای مبارزه با ایدس

رئیس بانك جهانی از جامعه بین المللی خواسته است که برای مبارزه با ایدس سالانه ده ملیون دالر کمك دهد . او گفت اپیدمی ایدس یا H.I.Vدیگر از دایره یك مشکل طبی خارج شده و به مشکلی درزمینه توسعه جهانی بدل شده است که دستاورد های پنجاه سال گذشته را تهدید می کند سازمان مبارزه با ایدس درسازمان ملل متحد اعلام کرد که مبارزه با شیوع گسترده ایدس تنها زمانی مطلوب خواهد بود که رهبران حکومتی ، مذهبی وفرقه یی از تلاش ها برای مبارزه با آن حمایت کنند .شاگرد

### اطفال وخطر دیابت

دانشمندان به شواهدي دست یافته اندکه نشان میدهد اطفالیکه تحت تداوي شدید دیابت وابسته به انسولین قرار گرفته اند ، دچار نقص جزیي حافظه مي شوند این تحقیق که درنتیجه مراقبت هاي دیابت در واشنگتن منتشر شده نشان داده است که اطفال تحت تداوي دیابت سه برابر بیشتر از دیگراطفال در معرض خطر کاهش شدید قند خون ونقص فعالیت هاي مغزي قرار دارند . سالانه درجهان ملیون ها نفر به مرض دیابت مبتلامي شوند که از آن جمله تعدادي از اطفال هم اسیب پذیر اند. امین

۱۹۹۸ تا۱۹۹۹ در کوسووا تعداد زیاد مسلمانان یا به قتل رسیده به دریا ها انداخته میشدند و یا به شکل دسته جمعی دفن میگردیدند .

## مردم روسیه در ...

مواد مخدر معتاد اند وشمار معتادان طی پنج سال گذشته دوبرابر شده است مقامات روسیه از مردم خواسته است درمبارزه با اعتیاد به تلاش عمومی دست بزنند ودر ایران طوری که مقامات مسول آنکشور اذعان دارند حدود یك ملیون ودوصد هزار نفر معتادبه مواد مخدر فعلاً وجود دارد درحالیکه برخی مقامات ایرانی این رقم را شش ملیون میخوانند وطی سه روز هفته گذشته سه هزار نفر معتاد وتهیه کننده مواد مخدر دستگیر شده اند به قرار گزارش استفا ء از مواد مخدر به خصوص درمیان زنان ونوجوانان ودرمناطق روستایی ایران رویه افزایش است.

## لبنان از طرف ...

طیارات جنگی رژیم صهیونستی شب گذشته تپه های اطراف قرا ء آزاد شده کفار شعبا واقع درجنوب لبنان را طی چند نوبت بمباران کردند .

درهمین حال توپچی دور منزل رژیم صهیونستی تانمیه شب گذشته سه قصبه آزاد شده جنوب لبنان راهدف قرار دادند که از اثر ان یکصد گلوله به مناطق مسکونی اصابت نموده وچندین خانه مسکونی را متضرر ساخت .

این انتشاری حریق منازل مسکونی را نیز همراه داشت .

بدنبال این حملات وحشیانه برخورد های شدید میان مجاهدین فلسطینی واشغالگران صهیونست در شهر کهای مختلف ساحل غربی ونوار غزه رخ داد که از اثر آن علاوه بروارد شدن خسارات مالی به اشغالگران دوتن از عساکر آن رژیم شدیداً مجروح گردیدند .

## نړیوالی محکمي ته ...

دلوید بغ دمرستو سره سره بلګراد له یوه ژورسیاسی بحران سره مخامخ کړیدی .

دیوګوسلاویا صدراعظم زوران جنجیج ورمه ورځ نړیوالی محکمی ته دمیلو سوویچ دسپارلو پرخلاف داعتراف په دول له خپلی دندی څخه استعفا وکړه .

کیدای شي دغه اقدام دولت دی ته مجبور کړی چی نوی سراسری انتخابات اعلام کړی ده ویلی دی چی دخلق په سوسیالیست ګوند پوری مربوط ټول وزیران به دحکومت له غړیتوب څخه ووځی تیره شپه په بلګراد کی نږدی لسو زروتنو غونډه وکړه او دجنګی جنایتو نونړ یوالی محکمی ته یی دخپل پخوانی مشر د سپارلو پرخلاف مظاهری وکړی .

## جنرال پرویز مشرف ..

شده میتواند که خواهشات مردم کشمیر و مردم پاکستان در نظر گرفته شود در ملاقات رسمی جنرال مشرف با واجپای صدر اعظم هند که در شانزدهم جولای صورت خواهد گرفت روی مسئله کشمیر وسایر مسائل بحث خواهد شد .

## په جاپان کي ...

دامریکا دمتحده ایالاتو دجمهوررئیس جورج دبلیو بوش او دجاپان دصدراعظم

جونیشرو کومیزومی ترمنځ دامریکا دمتحده ایالاتو په کمپ دیوید کی وشوی دواړو خواوو پر جاپان کی دامریکا یی پوځیانو دشتوالي ددوام په باب خبری اتری وکړی .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

## توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.